**ليکوالان:**

- محمد عزیزبختیاری
- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل
- مؤلف محمد انور مشفق

**ژباړونکي:**

- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل

**مسلکي ایډیټ:**

سرمؤلف میرعبیدالله فاضل د مدني زده کړې د پیارتمنت علمي غړی

**د ژبې ایډیټ:**

محمد سهراب دیدار د پښتو دیپارتمنت علمي غړی

**دیني، سیاسي او فرهنگي کمېټه:**

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- داکتر عبدالصبور فخري،
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کمېټه:**

- داکتر اسد الله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- داکتر شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح و دیزاین:**

رحمت الله غفاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنیزو بدلونونو لاملونه(۲) ........ ۵۱
د څپرکي لنډیز ........ ۵۴
څلورم څپرکي: ټولنیزې نابرابرۍ ........ ۵۵
د څپرکي موخې ........ ۵٦
ټولنیزې نابرابرۍ څه شی دي؟ ........ ۵۷
طبقاتي نابرابري ........ ٦۱
جنسي نابرابري ........ ٦۵
د څلورم څپرکي لنډیز ........ ٦۸
پنځم څپرکی: زموږ ټولنیزې ستونزې ........ ٦۹
د څپرکي موخې ........ ۷۰
زموږ ټولنیز مشکلات: بې سوادي ........ ۷۱
زموږ ټولنیزې ستونځې: نېستي او غریبي ........ ۷۵
زموږ ټولنیزې ستونزې: (استوګنځی) ........ ۷۹
زموږ ټولنیزې ستونزې: روغتیا ........ ۸۳
زموږ ټولنیزې ستونزې: دنیشه یي توکو قاچاق ........ ۸۷
زموږ ټولنیزې ستونزې، نا امنی او ترهګري ........ ۹۱
زموږ ټولنیزې ستونزې: نا چاودلي توکي ........ ۹۵
د پنځم څپرکي لنډیز ........ ۹۸

- ځرنګه خبرې وکړو،
- خپل مور پلارته او د کورنۍ مشرانو او لویانو ته درناوی وکړو،
- ځرنګه د خپل ځان او چاپیریال پاکوالی وساتو.
- د خپلې کورنۍ له غړو سره مینه ولرو،
- ځرنګه له نورو سره رفتار او ژوند وکړ،
- ښه او بد یوله بل ځخه جلا کړو،
- په دیني عقایدو او ارزښتونو باور وکړو،

کورنۍ د آدابو او د ژوند کولو ځینې لارې چارې په قصدي توګه او د یو پلان او موخې له مخې نوي نسل ته ورښيي، خو د دغو آدابو یوه برخه په ناڅاپي او غیر قصدي ډول زده کیږي.

د بیلګې په ډول: د والدینو(پلار او مور) اخلاق کېدای شي چې د یو اخلاقي نمونې په توګه د هغوی ماشومانوته ولیږدول شي، په داسې حا ل کې چې ښایي دوی ونه غواړي چې د هغوی ماشومان دې د دوی لاره ونیسي(د هغوی د اخلاقو تقلید دې وکړي) نو په دې توګه، که چېرې پلار او مور د ښه اخلاقو او ښو رفتارونو څښتنان وي د هغوی او لادونه به هم د ښو اخلاقو څښتنان شي ا و برعکس که هغوی بد رفتاره او بد خویه وي د هغوی او لادونه به هم د دغه اخلاقو تقلید کوي او هغه به زده کوي، ځکه چې پلار او مور د خپلو او لادونود شخصیت مهمې بېلګې اوښکارندوی دي. د مور او پلار په څنګ کې د کورنۍ نور غړي د کوچنیانو نږدې خپلوان چې تل هغوی سره تګ او راتګ لري او یا تل ورسره اړیکې لري د کوچني په شخصیت نیغ په نیغه اغېزه لري. په ځانګړې توګه مشران ورونه او خویندې، ترونه، د تره زامن، ترورګانې او نیکونه او د هغو په شان نور چې تل بې د کوچني سره سروکاروي د کوچني د شخصیت په جوړولو کې مستقیمه اغېزه لري.

له دې امله چې په هر هېواد کې مذهبي، قومي، طبقاتي کوچني فرهنګونه مو جود دي چې دا کوچني فرهنګونه دکو رنۍ له خوا ساتل کیږي او رواج پیدا کوي. نوی نسل د



(c) ketabton.com: The Digital Library

### د لوست تکرار

- ......................................................................
- ......................................................................
- ......................................................................
- ......................................................................
- ......................................................................

### پوښتنې

۱- وروسته له کورنۍ، هم لوبو او دوستانو نه کوم شي کولای شي چې د انسان په شخصيت اغېزه وکړي.

۲- ولې کورنۍ خپل اولادونه وروسته له اووه کلنۍ نه ښوونځي ته استوي؟

۳- ښونځی کوچنيانو ته کومې وړتياوې ورزده کوي؟

۴- د وګړو کړه وړه په ښوونځي کې بايد څرنګه وي؟

۵- په جوماتونو کې کوچنيان کوم شيان زده کوي؟

۶- د ژوند چاپېريال کوچني او تنکي ځوانان څنګه رهبري کوي؟

۷- ډله ييزه رسنۍ څه شی ته وايي؟

### کورنۍ دنده

په افغانستان کې په ډله ييزو رسنيو او د هغو په پروګرامونو باندې رڼا واچوئ او د هغو مثبتې او منفي اغېزې په دوه مخونو کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او يا منفي وي. ځينې بدلونو نه څرنګه چې د اقتصاد په برخه کې مومثال ورکړ، کيدای شي مثبت بدلون وګڼل شي. ځکه چې دهغه بدلون پايله ټولو خلکو ته ګټوره او مطلوبه ده. مګر ځينې بدلونونه کيدای شي خلکو ته زيان رسونکې پايلې ولري. د بېلګې په توګه: په هېواد کې يرغل ګرو پر ضد د جهاد نه وروسته کورنۍ جګړې چې په عامه توګه د هېواد په ضرر او بې ګټې وې د خلکو په ژوند کې د ډېرو بدلونونو لامل وګرځيدې.

## د ټولنيز بدلون پديدې او نبنې نبنانې

ټولنيز بدلونونه د ژوند په مختلفو برخوکې منځ ته راځي. نن ورځ په دې نړۍ چې موږ په هغې کې ژوند کوو ټولنيزې سيالۍ بدلون موندلی دی. زياتره نړيوالې ژبې په سيمه ييزو ژبو اوښتې دي او سيمه ييزو ژبو په نړيوالو ژبو بدلون موندلی دی. اغېزه کول او اغېزمن کيدلو په بې ساري ډول چټکتيا موندلې ده. د خلکو رول د خپل برخليک په ټاکلو کې پراختيا موندلې، د تعليم او زده کړې وسايل ډېر شوي دي، چې تقريباً ټولو خلکو هغو ته لاس رسی موندلی دی.

په هر صورت ټولنيز بدلونونه که چېرته کنترول او هدايت شي کيدای شي د ټولنې د خوزښت ماشين د پرمختګ او ودې خواته مخه وکړي، څرنګه چې د بدلون نه شتون به د ټولنې د سکون او د هغې د ځای په ځای پاتې کيدو او دريدو په معنا وي. نو هيله کېږي چې د ټولنيزو بدلونونو عوامل چې په راتلونکو لوستونوکې بې مطرح کوو، وکولای شو په هوښيارۍ سره دا ټولنيز بدلونونه کنترول او هدايت کړو او له هغه نه د هېواد او ټولنې په ګټه استفاده وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلې وو او داكار د دې سبب شو چې زموږ يونسل تقريباً په عمومي ډول بې سواده او ياكم سواده پاتې شي. په دې مشكل باندې برياليې كيدل يو ملي عزم ته اړتيالري چې په سركې د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت چې د ملت له ځواك اوارادونه استازيتوب كوي، رينښتينې طرحې جوړې كړي او د خلكو په مرسته يې پلي كړي. ترڅو دغه ملت چې د يوه آزاد او پتمن ژوند مستحق دى، له غريبي او نېستي چې د دوى د خوارى او ذلت سبب گرځي خلاصون پيداكړي.

## د لوست تكرار

• ..................................................

• ..................................................

• ..................................................

• ..................................................

• ..................................................

## پوښتنې

۱- د غريبي فردي لاملونه شرحه كړئ؟

۲- د غريبي د ټولنيزلاملونو نوم واخلئ.

۳- د غريبي او فقرطبيعي لاملونه كوم دي؟

۴- ولې زموږ گران هېواد له غريبي سره لاس په گريوان دى؟

۵- څنگه كولى شو د خپل هېواد څخه د غريبي لمن ټوله كړو؟

## كورنۍ دنده

كه و غواړئ د خپلې كورنۍ اقتصادي سطحه لوړه كړئ:

۱- آيا نور منابع په واك لرئ چې وكړى شي له هغو څخه گټه واخلې؟

۲- ايا دخپلې كورنۍ ځينو غړوته ديوه بل كار وړانديز كوئ؟

۳- ايا د كورنۍ ځينې غړي د نويو مهارتونو زده كړې ته اړتيا لري؟

د پورته پوښتنو په هكله له خپلو لويانو سره وغږيږئ او ځوابونه يې په خپلو كتابچوكې وليكئ او ټولگي ته يې واوروئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ ټولنیزې ستونزې: نا چاودلي توکي




## خبرې اترې پرې وکړئ

زموږ په گران هېواد کې کلونه کلونه جنگ جریان درلود. هرې ډلې د خپلو قوتونو د ساتلو لپاره ماینونه ښخ کړي وو.

اوس هم د څو کالو راهیسې یو زیات شمېر ناچودلي ماینونه او نورتوکي په ځای پاتې دي چې د خلکوژوندتـهدیدوي. ستاسي له نظره:

۱- آیا تاسې تراوسه ناچودلي ماینونه او یا نور توکي لیدلي دي؟

۲-که چیرې ماین سره مخامخ شوئ څه کار کوئ؟

۳- د ماینونود مخنیوي لپاره کوم کارونه باید وکړئ؟

هغه هېوادونه چې د جنگ له مرحلې څخه تیرشي ترجگړې وروسته ډېر کالونه بیاهم د جگړې ستونزې گالي. د ډېرو مهمو ستونزو څخه یوه یې د ماینونو او نا چوادلو توکو پاتي شوني دي او په کال کې د یو زیات شمېر هېواد والو د مړینې سبب گرځي. په دې څوکالونوکې د ماینونو او ناچادلو توکو د ټولولو لپاره زیات فعالیتونه تر سره شویدي په تأسف باید ووایو چې زموږ یو زیات شمېر هېوادوالو له همدې امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. له دې هڅو سره سره بیاهم زیات شمېر نا چودلي توکي تر اوسه هم تر خاورو لاندې دي چې زموږ د هېوادوالو ژوند تـهدیدوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

### اوس باید څه وکړو چې د ماینونو له خطر څخه وژغورل شو؟

ډېرکارونه په دې برخه کې باید سرته ورسوو چې ډېرمهم یې دادي.

• یو اساسي کار دادی چې دولت باید هلې ځلې وکړي چې ډېرژر ماینونه اونور ناچوادلي توکي راټول کړي او د هغې له احتمالي خطر څخه خلک وساتي

• بل ډېرمهم کار دادی چې خلک د ماینونو په خصلت و پوهوي او دا هم ور زده کړی چې د دې توکوسره څه ډول چلندوکړي. هغه خلک چې د ماینونوپه سیموکې ژوندکوي، باید ډول ډول ماینونه وپیژني، د هغوی په خطرونوپوهیږي او له هغې سره د چلند زدکړه وکړي. چې خپل ځان له هغوی څخه وساتي.

د ماین پاکی مؤسسې چې په ملګروملتونو پورې تړلي مؤسسې دي، په دې هکله یې زیات کارونه سرته رسولي دي او ځینې هدایتونه یې د تبلیغاتوله لارې کړي دي چې ټولو خلکو ته له ارزښت څخه خالي نه دي:

**بحث وکړئ**

### ناچاودل شوی توکي څه شی دي؟

پلاستیکي،دلرګیو او اوسپنیزه نا پېژندل شویو توکو ته لاس مه وروړئ، کیدای شي چې ناچاودلي توکي او یا یو ډول ماین وي. هغه چاودېدونکي توکي چې چاودلي نه وي، د نا چاودل شویو توکو په نامه یادیږي. نا چاودل شوي توکي عبارت له: راکټ، نارنجک، بمونه او داسې نور دي. نا چاودل شوي توکي له فلزاتو، لرګیو او پلاستیک نه جوړ شویدي، او د اقلیم له بدلون سره خپل رنګ ته بدلون ورکوي اوکوم مهمات چې له فلز نه جوړ شوې دي زنګ یې وهي او پېژندنه یې ډېره مشکله وي. په دې توګه په هغو ساحوکې چې دا توکي نه پېژنو باید د سیمې مشرانو او یا د ماین پاکی دفتر ته خبر ورکړو، ترڅو هغه له منځه یوسي. ز یاتره نا چاودلي توکي د ځمکې پرمخ پراته وي او د هغوی له خطرونو نه مخنیوی ډېرآسانه ده. په داسې حال کې چې ماینو نه زیاتره د ځمکې لاندې ښخ وي او د هغو د خطرونو نه مخنیوی ستونزمن دي. خو نا چاودلي مهمات کولی شي د ماینو نو په پرتله د ډېرو تلفاتو اویا د انسانانو او حیواناتو د ټپي کیدو لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. (د حب الو طن من الایمان) د مقولې په بنسټ؛ وطن، د هېواد په هر وګړي حق لري. هېواد د مور په شان دی، څرنګه چې په او لاد خپل مور او پلار ګران وي نو د ټولنې په افرادو هم باید خپل هېواد ګران وي. په داسې حال کې چې د ناچاودل شویو توکو او ماینونو خطر هېواد ته یو ګواښ دی نو د هېوادپوولو اتباعو ته لازمه ده چې ماینو نه ښخ نه کړي او همدارنګه کله چې نا چاودل شوي توکي ویني هغو ته لاس ورنه وړي بلکه یو صلاحیت داره ادارې ته باید خبر ورکړي چې په دې ډول خپله ایماني او وطني دنده سرته ورسوي.

## د لوست تکرار

- ..................................................
- ..................................................
- ..................................................
- ..................................................
- ..................................................

## پوښتنې

۱- نا چاودلي توکي څه شي ته وایي؟

۲- ولې خبښ شوي ما ینونه اونا چاودلي مـهمات دځمکې پرمخ پاتې دي؟

۳- ماینونه او نا چاودلي مـهمات څه خطر لري؟

۴- کله چې له ماینونو سره مخامخ شی څه کار به سرته رسوئ؟

۵- څنګه کولی شو چې دنا چاودلو مـهماتو او ماینونوله شرنه په امن کې پاتې شو.

## کورنی دنده

دا چې څنګه کولی شو د ماینونو او نا چاودلو توکو او مـهماتو له خطرنه په امان کې پاتې شو، په دې باره کې څوکرښې ولیکئ.

